مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۸/۱۶

# لیمه پرې ځلېده

هر ګل چې غوړېده دلته لیمه پرې ځلېده
د کور په دیواله کې محبت راور پېده

ولس و پنځېدو ته بیټ نیکه په دوعا سر وو
دا خاوره شوه خړوبه سره لعلونه ټوکېده

د زړه په بایلونه کې مینه افسانه شوه
ادم خان د رباب غږ دورخانۍ ته رسېده

یو ځواک و او یو واک ولس پر خپله زمکه ټول وو
پرهره لویشت نرګس او غاټول یو ځاې غوړېده

چې راغلله تیاره تور دیوان راځنې تاو شول
د خاوري بچي تل هر تاړاک برید ته درېده

روښان بایزید ولیدل ظلمونه شو سالک
ښکاري په دام، تلک افغان لا هم نه پوهېده

ګاوند کې ښکېلاک ګر موږ ته بلا وزیږوله
یوې ورځې تر بلې یې زیانونه ډیرېده

هاجرې! د امان پاچا تاریخ چې بیا پیل نه شي
له ګوډ مولا ملګرو یې ولس تر اوسه زورېده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ